# د اے این پي خیبرپښتونخوا د مشر

# سکتر سردار حسین بابک پیغام



خبره چې :

نـن ټول خلق د هغې محبوبې سندرې وائي
اجـمـل چې بـه د ځـان سـره ژړلـه کله کله

دازمـونږ دپـاره د ویاړ ځائې دے چې نن که ټول په ټـولـه میډیـا زمـونږ د دغې مـوقف قایله نه ده نو مخالفت ئې هم څوک نه شي کولے. زمونږ دپاره دا هـم د خـوشـحـالۍ ځـائې دے چې زمونږ پارټي او تـنـظیـم نـن د پخوا په نسبت هم زیات فعالیتونه لـري. او د زیـات شـعـور پیدا کېدلو په وجه اوس زیـات پښتـانـه زمـونږ طرف ته په تیزۍ را روان دي. او دا پـارټي او دا سیاست خپله پارټي او خپل سیاست ګڼي.

مونږ د باچاخان او ولي خان د روحونو سره د خپـلـو لوظونو تازه کولو په وخت دا هم وایو چې مـونږ انسـانان یو د وخت او حالاتو سره سره به څه کـوتـاهۍ هم زمونږ نه کېږي خو په مجموعي ډول چې مـونږ څـومـره کـار کړے دا را تـه څـه نـه څـه اطمینان هم راکوي.

بـاچـاخـان او ولـي خـان اوس یوازې مونږ خپـل مشـران نه ګڼو. بلکې پښتانه په دغو دواړو سـتـرو راهـنـمـایـانـو سره متفق دي او دغه اتفاق زمـونږ ملاتړ او لښکر دے. مونږ لوظ کوؤ چې هم دا تحریک به منزل مقصود ته رسوؤ!!

په درناوي

مـونږ پـه داسې وخت او حـالاتو کښې د لـوئې فخر افغان باچاخان او ستر جمهوریت پسند رهبـر تـحـریک خان عبدالولي خان د یاد ورځ کوو چې د بـدقسمتۍ نه د دغو دواړو سترو رهبرانو په یـوه پېړۍ خور ؤور د امن دپاره جدوجهد نن هم په سرو وینو کښې رنګ بنګ دے. ولې مونږ په دې حـقـلـه څه نه څه خوشبین په دې یو چې دغه سخت حـالات او وختـونـه مونږ په څه نه څه ډول برداشت کړل او د امـن دغه پیغام مو نه یوازې د وطن خلقو ته بلکې د دنیا د نورو قامونو او اولسونو ته هم ور ورسوؤ. او د ,,جنګ،، او ,,امـن،، شـعـور مو پـه خـلـقو کښې پیداکړو. هغه د اجمل خټک صاحب